د روغتیايي مراقبت د دفاع دفتر

# د MEDICAID تمدیدوني

په 2020 کې فدرالي حکومت ځانګړي قوانین وضعه کړل چې د کوویډ-19 وبا له امله یې د Medicaid تړل بند کړل. دغو قوانینو په دې وروستیو کې بدلون موندلی دی. ورمونټ به اوس د معمول مطابق په اپریل کې د Medicaid د بیا نوي کولو پروسې پیل کړي. که تاسو لا هم د عاید، عمر، او د اوسېدو اړتیاوې پوره کوئ، تاسو به په Medicaid کې پاتې شئ. که تاسو نور په شرایطو پوره نه یاست، ستاسو پوښښ به بند شي. که چېرې داسې وشي، تاسو کولای شئ د بل ډول بیمې لپاره نوملیکنه وکړئ. **د روغتیايي مراقبت د دفاع دفتر دلته د دې لپاره دی چې ستاسو هغو پوښتنو او اندېښنو ته ځواب ووایي چې تاسو یې د Medicaid د بیا نوي کولو د پروسې په اړه لرئ.**

## د Medicaid بیا نوي کول:

د Medicaid د بیا نوي کولو پروسه به بیا ځلې د 2023 کال په اپریل میاشت کې پیل شي. د ورمونټ د روغتیا اتصال (VHC) به د معلوماتو د غوښتنې لپاره د بیا نوي کولو لیک درته واستوي. هغوی ښایي له تاسو څخه غوښتنه وکړي چې معلومات ورته واستوئ ترڅو دا تایید کړي چې تاسو په Medicaid کې د پاتې کېدو لپاره د عاید، هستوګنې، او عمر اړتیاوې پوره کړې دي. تاسو ښایي د خپل اوسني عاید ثبوت هم ورته وړاندې کړئ.

هغوی به د Medicaid د بیا نوي کولو ټولې چارې په یو ځل ترسره نکړي. د دې پرځای، هغوی به د بیا نوي کولو لیکونه په ګروپي ډول په راتلونکو 14 میاشتو کې واستوي. دغو لیکونو ته ځواب ویل او VHC ته د هغو معلوماتو ورکول چې دوی یې غوښتنه کوي ډېر مهم دي.

## خپل د اړیکې معلومات اپډېټ کړئ:

تاسو باید ډاډ حاصل کړئ چې VHC په فایل کې ستاسو اوسنۍ پته ، د تلفون شمېره، او برېښنالک لري، ترڅو هغوی وکولای شي د بیا نوي کولو لیکونه او نور اړین معلومات تاسو ته واستوي.

هغوی ته په **855-899-9600** شمېره زنګ ووهئ یا **vermonthealthconnect.gov** ته په مراجعې سره خپل پورټال ته د ننه شئ ترڅو دا تایید کړئ چې دا معلومات اپډېټ شوي دي.

## د تړل کېدو خبرتیا:

که تاسو لا هم د عاید، عمر، او د اوسېدو اړتیاوې پوره کوئ، تاسو به په Medicaid کې پاتې شئ. اما که چېرې تاسو نور د Medicaid د پوښښ لپاره په شرایطو پوره نه یاست، VHC باید مخکې له دې چې ستاسو امتیازات پای ته ورسېږي، تاسو ته د بندېدو خبرتیا واستوي. هغوی باید مخکې د تړل کېدو له نېټې څخه تاسو ته خبرتیا واستوي. د Medicaid پوښښ به د ټاکلې میاشتې تر وروستۍ ورځې بند نشي.

## د نوملیکنې ځانګړې موده:

که تاسو نور د Medicaid لپاره په شرایطو پوره نه یاست او په Medicaid کې نه یاست، تاسو کولای شئ د خپل پوښښ له پای ته رسېدو سره سم د VHC له لارې د روغتیايي بیمې لپاره د نوملیکنې ځانګړې موده ترلاسه کړئ. تاسو به د خپل Medicaid له بندېدو وروسته **60 ورځې** وخت ولرئ ترڅو د VHC له لارې د روغتیايي بیمې لپاره نوملیکنه وکړئ.

که چېرې ستاسو ګومارونکی تاسو ته بیمه درکوي، تاسو کولای شئ وروسته له دې چې پوښښ مو بند شي د دې پوښښ لپاره نوملیکنه وکړئ. اما دا مهمه ده چې ژر اقدام وکړئ. د ګومارونکي د بیمې لپاره د نوملیکنې ځانګړې موده کېدی شي د 30 ورځو لپاره محدوده وي.

## Medicare:

که چېرې تاسو Medicare لرئ او د Medicaid او د خپلې بیمې د ګزینو په هکله پوښتنې لرئ، د روغتیايي مراقبت د دفاع دفتر د انفرادي مشورې لپاره زنګ ووهئ.

## که پوښتنې لرئ، موږ ته زنګ ووهئ:

د روغتیايي مراقبت د دفاع دفتر د ورمونټ د هغو اوسېدونکو لپاره یوه وړیا او محرمه سرچینه ده چې د روغتیايي بیمې یا مراقبت ته د لاسرسي په اړه پوښتنې لري. که چېرې
تاسو په دې اړه پوښتنه لرئ چې د Medicaid د بیا نوي کولو پروسه څنګه مخ ته ځي یا د روغتیايي مراقبت د ستونزو اړوند پوښتنې لرئ، موږ ته زنګ ووهئ. تاسو کولای شئ د
**1-800-917-7787** کمکي شمېرې له لارې له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ زموږ پر ویب پاڼه باندې اضافي معلومات ولولئ په آنلاین ډول د [vtlawhelp.org/health](vtlawhelp.org/health) له لارې د مرستې غوښتنه راواستوئ.